د جوزا ۲۷مه، ۱۴۰۴



# د څو متعارفه مدني حقونو او ټرمينالوژيکه تشريحاتو په رڼا کې د ښې حکومتولۍ او د محلي ادارو د نقش برجسته کول

دافغانستان د سيمه ييزه حکومتولي په سلسله کې....

**محمدآصف ننګ**
د اقتصاد خېړندوی مشر، له پکتيکا څخه


په تيرو ۳۰۰ کلونو کلونو کې د حکومتونو د شديداً مرکزيتوب او انحصار په سبب:

## دولت بايد خپل ټولنيز «اجتماعي اعتماد» له لاسه ورنکړي

## The government should not lose its "social trust"

شامنظر ته که وګورو له تيرو ۳۰۰ کلونو راهيسې د افغانستان د حکومتونو او سلطنتونو کيفيت يواځې تر يوې کورنۍ او يا هم انصافاً د پايتخت تر حواشيو محدود پاتې شوی، د پايتخت او لويو ښارونو امتيازات او برعکس د ولايتونو ناانډولي د افغانانو ترمنځ د تفاوت ترځنګ پر حکومتونو د ولسونو اعتماد ته تر ټولو زيات زيان رسولی. د اعتماد فقدان يوه ډيره مخفي بلا ده، ځکه چې حکومتونو ته د ولسونو سکوت خوشچانسي بلل کيږي، دولتونه فکر کوي چې هرڅه سم دی او پرګنې راضي دي، په داسې حال کې چې سکوت د بېزارۍ او انزجار په معنا هم راتلای شي، خاصتاً کله چې نظامونه پر عسکر هراسۍ استوار وي، که د افغانستان د کړکيچونو هر اړخيزه څېړنه وشي، ثابته به شي چې دلته د نظامونو د سقوط او د رعيت د بيزارۍ عمده دلايل نااندوله شهروندۍ، ناآنډوله اقتصادي وده او د منابعو او سرچينو نا انډوله ويش دی، چې له دريو پېړيو راروان دی، هرځل د انقلابي بدلونونو لپاره او هر ځل همدا د محرومو ولايتونو پرګنې د مرکز په ضد د بغاوت لپاره تر ټولو مناسبه فضا مهيا کړې ده او متاسفانه همدا محروم

وګړي د نیابتي ټکرونو لپاره د ګاونډیانو په ګورت کې هم په آسانه لویدلې...په تدریج سره د اطراف نارضایتي په وسله وال بغاوت تبدیل شوی او د رژیمونو په پرزیدو تمام شوی او بیا همدا تسلسل د جاګزین رژیم په هکله په دوراني بهیر تبدیل شوی، بیا ولسونو موضع نیولی او بیا حکومتونه له پرزیدو سره مخامخ شوي او بیا او بیا...
نو د ملي اعتماد لپاره رژیمونه باید موشګافانه پلټنه وکړي، درک معلوم کړي د معلول او علت له مخې بنیادي حل ولټوي په خاصه توګه کله چې د نظام د کیفي او ماهیتي بدلون معقولیت ثابت شي نو باید مناسب او اړ اقدام وشي..




## په واحد وطن کې د ولایاتو درجه بندی د سیمه ییزه تبعیضي شعور او د اتباعو ترمنځ د توپیر تقویه کول دي، Discriminatory grading and partition of monolith-land

مونږ په قوانینو او حقوقي تعریفاتو کې یوه مصطلح لرو، هیڅ افغان له بل افغان کم ندی او هیڅ افغان پر بل افغان برتر ندی، مګر ددې اخلاقي شعار په غیاب کې هیڅکله د دویمي او دریمي درجې سیمې افغانان د اول درجې له افغان سره ځان سیال او برابر نه احساسوي، عملاً د لویو اول درجه ښارونو او دریمه درجه ولایتونو د امتیازاتو، بودجې، دولتي تشکیلاتو او د لومړیتوبونو له پلوه دغه «تفکیک» او تقسیم په «برابرۍ» ندی تبدیل شوی. همدې تفکیک او تفاوت مرموزه دوام په واحد وطن کې د «برابر شهروند» احساس ته زیان رسولی، البته ددې مضره تقسیم بندیو سلسله باید فوراً ملغی شي، د منابعو او ملي بودجې تقسیم دې د ولایتونو د غربت، محرومیت، پسماندګۍ او استحقاق له پلوه پر دوی تقسیم شي، دولت باید د متوازن انکشاف فرمول ته په پام سره منابعو ته لاس رسۍ پر همدې فرمول (ډیر محرومیت ډیر امتیاز) عیار شي، تر څو، په اول قدم کې «محرومیت» په «برابرۍ» تبدیله شي او مزمنه پسماندګۍ د خلکو او سیمې د درجه بندۍ عمدي لامل او مسبب نشي. جالبه ده له یوې خوا دولت یوې سیمې ته پاملرنه نده کړې او له بلې خوا یې پخپله بیا پر همدې محرومې سیمې د دریمې درجه عنوان نصب کړی.!!




### په مرکز «ارګ» کې د ځوابده او ټولشموله اقتدار Lack of Responsive Governance خلا،

دغه خلا او نقیصه همیشه موجود وه، د ارګ اربابان همیشه د قدرت په غرور کې د واک انحصار دومره تنګ او بند ساتي چې د ځانګړې برسر اقتدار ګوند یا ډلې له فکري انډیوالانو پرته نورو افغانانو، مسلکي او تکنوکراتو کدرونو ته پکې نوبت یا ندی رسیدلی او یا هم په ډېر حاشیوي نقش کې یې استخدام ترسره شوی، ځکه خو د حکومت او ملت ترمنځ فاصله، ګیله او شکوه همیشه موجوده وه. دا ډېره طبیعي ده چېرته چې مستحق کدرونه او نماینده قامونه د مشارکت احساس ونکړي، چیرته چې د شایسته سالارۍ او توازن پر بنسټ د دولت په اډانه کې ګډون تمثیل نشي، خامخا به دغه خلا د بیزارۍ او تضاد باعث کیږي او که دغه خلا جبران نشي نو سوکه سوکه دغه تضاد او بیزارۍ د مرکزي دولتونو په ټکر، تخریب او بغاوت تبدیلیږي. بیا خو نو لزوماً د دولت لمن او تشکیلات باید پراخ شي، واکونه او صلاحیتونه له شدیداً مرکزیتوب ویستل شي، هغه واکونه او صلاحیتونه چې سیاسي تبعات نلري بهتره ده ولایتونو «سیمه ییزه حکومتولۍ» ته توزیع او تفویض شي پدې سره به له یوې خوا پراخ استخدام او پراخ ګډون ته بستر مساعد شي او له بلې خوا به د وطن کدري وګړې د ګډون او شمولیت چانس په اقتدار کې احساس کړی شي. په معاصره دولتدارۍ کې د مسلکي حکومتونو جوړول د ډیرو ټولنیزو، فکري او حتی د مذهبي توپیرونو با وجود تر ټولو بهتره مسایلو ته رسیدګي کولی شي، باورمند یم چې له اداري او تشکیلاتي پراختیا او د واک له سیمه ییز کیدو سره به د مسوولیتونو د تقسیم ترڅنګ ددې باعث شي چې زمانبره اداري بروکراسي او پر مرکزي حکومت مدیریتي بوج به راکم او د خدمت رسونې ماموریت به له عالي کیفیت او رضایت څخه برخمن شي.

## پرمختگ او د پراختیاېي برنامو متوازن پلې کيدل Equal Development

هر څومره چې واک او اقتدار له ارګ «مرکزي انحصار» څخه ووځي او سیمه ییزه صلاحیتونه او مسوولیتونه پراخ شي په هماغه اندازه به اعتماد، ژمنتیا، د مسوولیت حس، اقتصادي ودې او متوازنه پرمختګ او هم چټکتیا ته زمینه زیاته کیږي. د افغانستان سیاسي او طبیعي جغرافیا داسې جوړه شوې چې هره سیمه او هر ولایت یې د خودکفایې د ایجاد لپاره پریمانه پوتنسیلونه، منابع او ظرفیتونه لري، نو دا خو څومره ښه خبره ده چې مونږ خپل ولایتونه د خودکفایې مرتبې ته ورسوو، د مرکزي دولت لپاره ولایتونه لکه خپل بچي داسې دي، نو که بچي یې پر خپل همت او خپل مټ خودکفا کیږي باید چې ملتیا یې وکړي او د ورته ممد واقع شي، نه مانع.

که په تیرو ۳ دریو پېړیو کې د حکومتولي شالید ته ځیر شو جوته کیږي چې له سیمه ییزه منابعو کماحقه ګټنه نده شوې حتی مرکزي – حکومت هم ترې مطلوبه استفاده نده کړې، دلیل یې دا و چې مرکزي حکومت د منابعو سیمه ییزه ترجیح او امتیازي پنډه د سیمه ییزې ودې په مقصد نه درلوده او نه یې هم په اړوند سیمه کې د سرچینو د تقسیم پروګرام او لومړیتوب درلودلی ځکه خو یا خلکو له هماغو منابعو هیڅ استفاده نده کړې یا یې پخپل سر توره استفاده ترې کړې، لکه له ځنګلونو او قیمتي کانو او یا هم خلکو د دولت د مرکزي عوایدو په پراختیا کې له ونډېتوب چې خپله مټه خالي کړې، مثلاً په سرحدي او بندري سیمو کې چې اړوند پرګنې یې د سالم تجارت په ځای قاچاقي کاروبارونو ته رجوع کړې، چون دوی په ډیره کمه پیمانه د مرکزي بیت المال او مرکزي عوایدو له نعمت او ملاتړ برخمن شوی دي، او چې کله یې له مرکزي منابعو بهره مندي کمه وي طبعاً دوی د خپلو اساسي اړتیاو د پوره کولو لپاره خپله مازاد اړتیا له تور او قاچاقي کاروبارونو تر لاسه کوي، دغه تجربه مې د خپل ولایتي ماموریت په دوران کې (په فراه ولایت کې) یاددښت کړه، چیرته چې د وګړو محرومیت واقعاً د مرکزي حکومت لپاره د شرم وړ ده...تفصیلي روایت به یې په ځانګړې څېرکې کې بیان کړم.



## د ولسي حکمرانی Democratic leadership او عمومي جمعي عدالت ایجابات Justice for all ،

په تیرو دریو پیړیو کې په افغانستان کې دیموکراتیکه ولسي حکمراني قطعاً په هیڅ دور کې نده راغلې، اولاً خو ولس ته د حاکمانو د ټاکنې او انتخاب حق ندی ورکړل شوی، دویم دا چې غالباً پر خلکو حکومتونه تپل شوې یا خو یوې ډلې په زور اقتدار او سلطه تر لاسه کړې نو يې ځان تر ټولو د قدرت مستحق بللی، کله چې حکمرانه ډله د ولسي له استازولي محرومه وي، د ملت ملاتړ به هم د همدې استازولی په تناسب وی، بیا نو د عمومي او جمعي عدالت تامینول به هم چندان ممکن نه وی، او چې عدالت عام، عادلانه، رعیت محوره او حق محوره نه وی پر عدالتي بنسټونو د ولسونو اعتماد نه وي او بالاخره دغه د اعتماد بحران د سیاسي بی اعتمادۍ په بحران تبدیلیږي او طبعاً د ولس او دولت ترمنځ فاصله ایجادیږي چې دغه واټنونه خطرناک او هلاک کوونکی تمامیږي.




## د چارو ساده کول او د خدماتو او تسهیلاتو آسانه او مهیا ګرځول

### Simplification and facilitation of public services

دا هر انسان یوه انساني وجیبه ده چې انساني ژوند یوبل ته آسانه او ساده وګرځوي، د دولت خدمات او واجبات باید هر وګړي ته په برابره توګه د رسد قابل وي، د دولتدارۍ په معاصره تعریفاتو کې د مدرنه ملي دولتونو عمده وظیفه هم همدا ده. بحث پدې سوال غزوم چې ولي د کابل او لویو ښارونو ته د هغوی د استوګنو رسد آسانه او ارزانه ده خو همدا رسد د اطرافي وګړو لپاره سخت، قیمتي او زمانګیره دی؟ ځکه چې سیستم داسې عیار شوی چې واک او صلاحیتونه له مرکز څخه ولایاتو ته ندي انتقال شوي، د ډیرو زیاتو محلي کارکوونکو د عادي او سلسلوي چارو د امضا او لاسلیک صلاحیت هم په مرکزي ادارو کې ده، دا ولي او تر کومه؟ که د وطن وګړي د برابر شهروندي حقوقو څخه برخمن دي نو باید دولتي خدمات او تسهیلات ورته په مکاني او زماني لحاظ برابر مهیا شي، اما دلته

کلونه کلونه هغه عمده عامه خدمات دومره بروکراتیکه او مرکزي دي چې ډیر کله د ولایاتو وګړي د خپل عادي طی مراحل لپاره په شپو شپو مرکز ته راځي په داسې حال کې چې که ولایتونو ته صلاحیتونه تفویض شي هر وګړی کولی شي په آسانه، چابکه او ارزانه توګه خپل مشکل حل کړي.

## چټکه اقتصادي وده او د منابعو چټک تحرک

## Accelerating the development process and speedup the resource mobilization

که د هېواد بحرانونو او کړکیچونو تحلیل ته لاړ شو، د وطن له غني منابعو او سرچینو څخه د نه استفادې په سبب، چې پسماني او فقر يې کلونه کلونه حاکم ساتلی او تر څنګ يې د ډیرې زیاتي کمزوري او سستي اقتصادي ودې هغه اساسي لامل د حکومتونو د واک پر انحصار، د شخړو او د مرکزي اقتدار په وړاندې له ګواښونو سره په مبارزې تیر شوی، زمونږ د وطن ډیر قیمتي وختونه د بروکراتیکه ادارې او مدیریت په سبب تلف شوې، اقتصادي وده چې څومره بطي او سسته وي په هماغه پیمانه به غربت او فقر دوامداره او پراخ وي، د وطن د غني منابعو د چټکې استفادې او تحرک لپاره لازمه ده دولت په منابعو کې د تصرف واک او پروسیجر غیر مرکزي کړي، پدې توګه به د یوه مرکزي حکومت په ځای ۳۴ حکومتونه او محلي اداري په کار ولویږي او له منابعو او سرچینو به ګټه پورته شي، لدې سره به اقتصادي وده، کار موندنه او اشتغال، د پانګونې فرصتونه او سیمه ییزه سوداګري او هم به منطقوي مشارکتونه له ګاونډیو شریکانو سره زیاته شي، سرحدي مشترک بازارونه به په سیمه ییزه کچه تاسیس شي.
طبعاً چې د انکشاف حق د ټولو افغانانو برابر حق دی، د متوازن انکشاف اصل یو حقوقي موضوع ده او په معاصره حکومتوالۍ کې یوه اصولي وجیبه ده چې د مشروع اقتدار د تکمیل یوه کړی ګڼل کیږي.

## ولي دومره شدید مرکزي نظام، فرض دی که سنت؟

غالباً د بهتره کنترول، د منابعو په راټولونې کې له فساد مخنیوی، په ملي مصرف کې دقت او صرفه جویي به يې اداري او اقتصادي توجیه او موخه وي خو سیاسي توجیه يې دا ده چې هېواد له انارشي او انقسام وژغورل شي... دا او دیته ورته ځیني توجیهات د مکث او غور وړ دي؛ خو د قدرت د انحصار حرص، یکه تازي، او پر نورو نه اعتماد يې عمده دلیلونه دي، د استعماري لوبو او د دوی له لوري پر افغانانو د پاچیانو د تعیناتو مصلحت هم په مرکزي اطاعت بنا دی، استعماري قدرتونو تل پر افغانستان د مداخلو او نفوذ له لارې زعامتونه ټاکلې د دوی د کنترول لپاره واحده مرکزي اداره په آسانه د کنترول قابل وه، ځکه خو ویلی شم، بلکې د دولتونو د ۳۰۰کلن تاریخ په مکرره تحلیل او څېړنې بالاخره دې نتیجې ته رسیدلی یم چې په افغانستان کې داسې کوم سند مخې ته نه دی راغلی چې د علمي او ملي مصلحتونو او د نورو هېوادو د غوره تجربیات له مخې دي دلته نظام جوړونه او حکومت جوړونه ترسره شوی وي، د تیر جمهوریت په تاسیسي مباحثو کې درې موډله د افغانستان د لیبرال نظام لپاره مقارنه شول، د فرانسې، بریتانیا او امریکا موډلونه، په بریتانیا کې مطلقاً صدارتي نظام دی، پارلمان پکې عام شموله واک او اختیار لري، په امریکا کې نظام ریاستي دي خو دواړه مجالس موجود دي مګر د اقتدار اصلي اډانه سپینه ماڼۍ او جمهور رئیس دی، په فرانسه کې نسبتاً مختلط نظام دی، رئیس جمهور او صدراعظم دواړه شته، پارلمان هم شته

خو واک او ملي صلاحیتونه د درېګونو قواوو په هر اړخ کې برابر توزیع شوي، پارلمان د وزیر د ټاکنې صلاحیت نه لري خو د برکنارولو او استیضاح صلاحیت یې لري، همدغسې یو موډل د افغانستان لپاره وړاندیز شو، د درېګونو قواوو تفکیک او د واک نسبي برخه یې مقننه رکن ته هم وسپارل شوه لکه (د دولت د چارو نظارت، د ولس او دولت ترمینځ د استازیتوب «وکالت» او د قانون دولت «تقنین» جوړونه).
دا چې ولي نظام مرکزي دی؟ پورته مو استدلال وکړ، چې البته د شرایطو مجبوریت پکې د نظام د ډول د ټاکنې لپاره تر ټولو لوی باب او مهمه توجیه وه، خو په واکمنو شرایطو کې، څنګه چې اوس د اسلامي امارت په دور کې دی، افغانستان تر واحد اقتدار لاندې رهبري کیږي، د قدرت جزیرې ختمې شوې، د انارشي او فدرال پلویان متلاشي شوې او د تنظیمونو او پردیو د مداخلې ګنجایش هم منتفي شوی دی. نو په دغسې شرایطو کې د افغانستان رهبرۍ ته لازمه ده چې د نویو علمي تحقیقاتو، د ماضي تجربو او د موجوده عملي واقعیتونو او مطالعاتو په رڼا کې د واک او اقتدار په مناسبه توګه د انتقال او توزیع په هکله مباحث او ډیالوګ ترسره کړي، دغسې مباحث د فکري اطاقونو له لارې باید راوسپړل شي، تر تدقیق، آزمایښت او تحلیل لاندې ونیول شي او د نویو پالیسو لپاره نتیجه پرې مرتبه شي.

په معاصره نړۍ کې لکه څنګه چې بیاځلې انساني حقوق او دولتي نظامونه تعریف شوې، اساسي محور پدې حقوقي نظام او تعریفاتو کې «شهروند محوري»، سرعت عمل، متوازنه پراختیا، اقتصادي وده، هویتي عدالت او د وګړو ترمنځ مدني مساوات او د قوانینو په تناظر کې د دوی برابر حیثیت دی چې په منل شویو فطري قواعدو، ملي قوانینو او د انسان د اساسي حقوقو او وجایبو په چوکاټ کې مسجل شوې دي، نو پدې لحاظ د افغانستان د مرکزي حکومتونو تاریخچه ښي چې په هیڅ دور کې یې اقتصادي موثریت د حساب وړ نه و، ممکن د واک د مرکزیتوب سیاسي موثریت به یې د طرفدارانو لخوا د توجیه وړ وي مګر د افغانستان عیني واقعیتونو، تاریخي شالید، اقتصادي سست پرمختګونو، مزمن فقر او پسمانۍ ته په پام سره قطعي حکم کولی شو چې د اداري، مالي او اقتصادي واکونو په شدیداً مرکزیتوب کې د هېواد اقتصاد ندی غوړیدلی، پسماني تشدید شوې، فساد مزیداً بلکې په ټولو سطوحو «افقي او عمودي» او په ټولو پیوندي سلسلو او اداري هرم کې نهادینه شوی، شهروندمحوره نظام ندی قایم شوی، د قوانینو تطبیق کماحقه ندی الزامي شوی او د مرکز او اطراف ترمنځ واټن هم تل تر تله پراخ شوی دی، د مرکز په وړاندې د بغاوت او عدم اطاعت انګیزه په مرموزه او منافقانه حد کې تقویه شوې ده.

لدېنه علاوه یو بل بحث چې د اسکان او استوګنې پورې اړه لري خو دلته یې د تفصیلي بیان مجال کم دی، هغه پر ښارونو د نفوس پراختیا او داخلي مهاجرتونه او اسکان دی، دغسې د داخلي بېځایتوب، د کورني نقل او مکان د بدلولو او پر لویو ښارونو او پایتخت د روزمره فشار یو اساسي دلیل دا دی چې دهاتي وګړي خدماتو او سهولتونو ته د لاسري په مقصد پر ښارونو رش زیات کړی، پخوا د ناآمنۍ په سبب ښارونه مرغوب پناه ځای ول، خو دا وخت د نفوس د سیلابي هجوم په سبب د ښارونو امنیت ګواښمن شوی، عامه نظم صدمه لیدلې، ترافیکي بیروبار او ورسره د محیط د ککړتیا کچه لوړه شوې، په کابل کې د ځمکي لاندې د اوبو کچه ژوره او ګواښمنه شوې، د اړتیا وړ توکو

عرضه د طلب په وړاندې کمه ده، په لویو ښارونو او پایتخت کې پر عامه خدمتونو (صحي، تعلیمي او معیشتي) د نفوس د تراکم په سبب سخت بوج راغلی، کیفیت یې خراب شوی او...



که چیرې دغه تفاوت او تفکیک د نظام په ذهنیت کې دوام ومومي او خدمات د درجه بندیو له مخې توزیع شي نو یقیناً چې راتلونکو کلونو کې به اطرافي او دهاتي زیست په طفیلي، حاشیوي او ثانوي زیست تبدیل شي، اطرافي وګړي به د لومړۍ درجه خدمتونو طرف ته راځي، دې سره به د سیمه ییزه اقتصادي فعالیتونو کچه ادنی ترینې درجې ته نزول ومومي چې دا به د چارواکو او رهبرۍ لپاره د چارو مدیریت لا زیات پیچلی او ستونزمن کړي.

## د سربندو سرچینو د تحرک، استخراج او استعمال لومړیتوب

دا اقتصادي او انساني قاعده او اللهي حکم دی چې طبیعي سرچینې باید د انسان او د ژوند د بهبود لپاره وکارول شي، هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا ، ځمکه او د ځمکې منابع د انسان لپاره دي چې باید حکیمانه استخراج شي، موثریت یې لوړ شي، یعني خام مواد په تولیدي توکو تبدیل شي، انسان تر مستفید شي او ژوند پرې مرفه شي. قاعدتاً او منطقاً د یوه ملک سرچیني باید په عادلانه، اغیزمنه، برابره او آسانه توګه د هېواد د وګړو په خدمت کې، پرته له تبعید او درجه بندۍ، واقع شي. دا چې له پیړیو راهیسې د منابعو او سرچینو د تصرف چاره مرکزي پاتې شوې د تصرف، استخراج او بهره مندۍ میزان یې هم ډیر کم پاتې شوی ممکن که دغه صلاحیت محلي او سیمه ییزه وای خامخا به په اقتصادي او معیشتي وضعیت کې څه خاص توپیر او بهبود موجود وای، کیدای شي د لویو ملي منابعو او سرچینو مرکزي مدیریت په آینده کې هم رعایت شي، خو د لوکل منابعو د تصرف او مدیریت چاره

دې محلي اداري ته محول شي دا یوه منطقي خبره ده، هرڅومره چې د محلي حکومت واکونه او نقش مهم کیږي، په هماغه پیمانه ورسره د سیمې په کچه د سیمه ییزو ادارو مسلکي ظرفیت لوړیږي، د محلي پانګونې ګنجایش پراخیږي، شغل او اشتغال او د منافعو تبادله ورسره زیاتیږي طبعاً چې د رفاه او سوکالۍ کچه او د فقر پدیده ورسره بهتر طرف ته ځي...

## افغانستان د ماتیدونکو دولتونو په کتارکې، څنګه یې له دغه وصف وباسو او پر با ثباته دولت یې بدل کړو؟ fixing the failed states, how?

د امریکا د فارن پالیسي مجلې په 2008 کې د دې مجلې له نظره د یوه نازک او ماتیدونکي دولت شاخصونه څپاره کړي وو په شروع کې یې هغه شاخصونه له یو نیم مازاد فکتونو سره بیانوم او په پای کې یې د هېواد پر اوسني وضعیت انطباقي تحلیل وړاندې کوو:

**الف: ټولنیز شاخصونه**

- د نفوسو د فشار زیاتوالی او د خدماتو او منابعو کمښت یا نا عادلانه ویش
- د ژوند لپاره پر کمو او اندک منابعو کشمکش او منازعې عمومیت مومي...
- د کډوالو لوی لوی جریانونه، د خلکو داخلي بې ځایه کیدل او بشري بیړني حالتونه
- نورو هېوادو ته د مسلکي کدرونو سیستماتیکه انتقال او انخلا
- د غچ اخیستونکو، استخدامي یا ویره اچوونکو ډلو شتون، لکه داعش یا نور نیابتي مزدوران

**ب: اقتصادي شاخصونه**

- د ټولنیزو ډلو ترمنځ غیر متوازن او غیر عادلانه پرمختګ
- د اقتصادي ضعف فعال فکتورونه،
- نړیوال اقتصادي تحریمونه او تعزیرات
- له هېواد څخه د پانګې او پانګوالو فرار
- د سرمایې ضعیفه وده او د خرید د قوت کمیدل
- قاچاقي او تور کاروبارونه، د تورو پیسو سپینول او نا مشروع تجارتونه

**ج: سیاسي شاخصونه**

- د دولت په اړه په کور د ننه د متفق علیه دید نه شتون
- په سیمه ییزه او نړیواله کچه د دولت د مشروعیت کمښت
- د میلیاردي خارجي مرستو د انقطاع په سبب په عامه خدماتو کې چټک کمښت

- د اساسي قانون او نورو قوانینو تعلیق او یا د موجوده قوانینو سلیقوي کارول، چې ګڼې حقوقي شخړې او دعاوي کړکیچونه یې زیات کړي
- د دولت په اډانه کې یواځې د یوې برلاسه ډلې لخوا پر منابعو سلطه او د دولت له منابعو د دوی تغذیه او تقویه کیدل، په داسې حال کې چې د دولت ټول تشکیلات باید ولس شموله وي.
- د نورو ذیغرضه دولتونو او بهرنیو لوبغاړو لخوا نیابتي مداخلې

پورته شاخصونه د ۲۰۰۸ کال د ارزونو او کټګوریو له مخې سنجول شوی، افغانستان په ۲۰۰۸ کال کې د نړۍ د ۱۰ نازکو او ماتیدونکو دولتونو په منځ کې د اووم نازک او ورشکسته دولت په توګه معرفي شوی و. په داسې حالت کې چې د کارپوهانو په وینا، په ۲۰۰۸ کال کې د افغان حکومت وضعیت د نن ورځې په پرتله خورا ښه و، له خارجي حضور وروسته ځیني نور شاخصونه هم پرې اضافه شوې چې د دولت لپاره یې د چارو مدیریت او له نړۍ سره تعامل لاپیچلی کړی دی.

معنا دا چې که د ماتیدونکي دولتونو له ردیف د ایستلو اراده موجوده وي نو پورته شاخصونو ته په پام سره د هر یوه ایراد او نقیصې په وړاندې باید اصلاحي برنامې په لاره واچول شي تر څو نظام مو پر موجوده ستونزو فایق شي.
پدې اړه هر اصلاحي پروګرام هغه که د ریاضتي اقتصادي سیاستونو تطبیق وی، یا د اجتماعي جوړښتونو رغونه وی، یا سیاسي اصلاحات وي مګر تر ټولو مهم یې دا دی چې د دولت او حکومت په اډانه کې بنیادي، ساختاري او د پالیسیو په کچه بدلونونه باید راشي، له هغو اړینو اقداماتو څخه یو یې د واکونو او اداري صلاحیتونو څو بُعدي او هر اړخیز تقسیم پر مرکزي او محلي مسوولینو دی تر څو دوی هم په تحرک او فعالیت راشي، په سازماني رکن تبدیل شي، د اوامرو د تطبیق پر ځای دوی پخپله د سیمه ییزه آمرینو په عنوان خپل فعالانه نقش ایفا کړي.

## د عقلانیت او منطق اصول،

د منطق له مخې که د افغانستان اداري نظام تحلیل شي، ډیر برجسته وینو چې د ترقۍ او مدرنیت تمرکز غالباً تر مراکزو پورې او خاصتاً تر پایتخت پورې محدود او منحصر پاتې شوی ده، هر عاقل او آګاه افغان پوهیږي چې د واحد وطن د وګړو او خدماتو په هکله توپیري چلند شوی، سوال دا دی چې ولې زمونږ ساقط شوې حکومتونه او عناصر یې د خپل ماضي بیاکتنه نه ترسره کوي؟ که دقت وشي نو ښایې هر یوه ته جوته شي چې ددې نقیصې عمده لامل د نظامونو مرکزیتوب او پایتخت محوره حکومتونه دي، لکه چې پورته مو په هر عنوان کې پر دې ټېنګار کړی چې د وګړو ترمنځ د برتري او کهتري احساس او انګیزه د نظام له ډول څخه نشات کړی، که د عقلانیت او منطق له مخې محاسبه وشي یقین لرم چې د هېواد رهبری او پالیسي جوړونکې (تقنیني رکن) به خامخا پر دې موضوع غور وکړي.

لاندې ځینې نور تعریفات او مباني هم د یادولو وړ دي چې له تفصیل او تشریح یې تیریږم، منتها همدغو مبانیو ته په پام سره باید بیا ځلي د مرکزیتوب او د واکونو د تقسیم په هکله جدي غور وشي او د آیډیال سیستم او نظام په

رامنځته کولو سره دغه مزمنه د پیړیو پسماني، فقر او جهالت ته د پای ټکی کېښودل شي، تر څو په ملي کچه رفاه او په سیمه ییزه کچه شراکتونه او په نړیواله کچه دغه د یرغلونو، ښکیلاکونو او تاړاکونو سلسله ختمه شي، افغانستان غښتلی شي، خودکفا شي، د نورو له خیرات او احتیاج خلاص شي، اقتصادي او سیاسي خپلواکۍ یې پایداره شي او د معاصرو دولتونو په توګه د نړۍ د تعامل او مشروعیت وړ وګرځي.
هغه مباني چې د چارواکو په تحلیل او د پالیسي جوړونکو په لوست سره به یې د نظامونو ډول او د عامه خدماتو کچ سنجول کیږي ځینې نور یې دا دي:

- **د قانونمندۍ د حاکمیت او فوقیت اصل او اساس**، طبعاً چې د قانون فوقیت هغه وخت ممکن کیږي چې وګړې ورته برابر احترام ولري او برابر احترام هغه وخت راځي چې قانون پر ټولو برابر تطبیق او له مزایاو یې د وطن اتباع په برابره توګه مستفید وي.

- **د نظامونو د اغیزمنتیا او موثریت لومړیتوب**، دغه هدف هغه وخت تحقق مومي چې د اتباعو ترمنځ د برترۍ او کهترۍ حس ختم شي.

- **د افغانستان میداني او عیني مصالح او واقعیتونه**، د ۳۰۰ کلونو حکومتي (متمرکزه) تجربو ته په پام باید او باید یوځلې د ټولو ولایتونو او اطرافي وګړو د لومړیتوب له مخې د نظام په واکونو کې بدلون راشي، مونږ ته لازمه ده چې د پیړیو له ناکامه او ناځوابده تجربو څخه زده کړه وکړو او له بدلون ونه ویریږو، نوی تجربه، ولو که ناقصه هم وي، د نظامونو د پوخوالي لپاره ممد واقع کیږي...

### د ټولشموله سیاسي نظام ایجابات، The requirements of an inclusive political system,

د افغانستان په څېر په کثیرالقومي او متنوع ټولنه کې د شمولیت حق له یوې خوا خو د مسلکیتوب او اهلیت له پلوه هم په نظام کې د وګړو، مذاهبو او فکري رجحاناتو استازولی باید تمثیل او تامین شي، پدې سره د ملي دولت اساسات تکمیلیږي، ګواښونه او مزاحمتونه کمیږي او د سوکالۍ او پایدارۍ لپاره تحرک او خوځندګي زیاتیږي، چې دا په حقیقت کې د دولتونو د دوام او استحکام رمز دی. د شمولیت لپاره لازمه ده د دولت تشکیلاتي جوړښت لازیات پراخ شي، نوی اداري ایجاد شي، اقتصادي زونونه ایجاد شي او د دولت اډانه په مسلکي او سیاسي برخو وویشل شي، چې مخکې مې پدې هکله لیکنه کړې.

### د مشروع اقتدار او ولس محورۍ اصل او ایجابات یې، The principle and requirements of legitimate authority and people-centeredness,

د ښې حکومتولۍ مصالح او د ځوابده اداري او رهبريت ایجابات The interests of good governance and the requirements of responsible administration and leadership,

په نظام کې د نوښت او ابتکار راوړل او د متفاوت حکومتولۍ تجربه کول، Bringing innovation and creativity to the system and experimenting with different governance,

بې تبعیضه ولسي نظام او بې سوپرمسۍ واکمني، A non-discriminatory popular system and non-supremacy rule,

له نړیوال پرمختګ سره همنوا تګ، له زمان او زماني سره بدلون، Keeping pace with global development and changing with the times,

له معاصرو حکومتونو او له مدرنه حکومتولۍ زده کړه، Learn from contemporary governments and modern governance,

د عادي او انقلابي شرایطو او واقعیتونو ترمینځ په تفکیک سره د نظام جوړونه، Building a system by distinguishing between normal and revolutionary conditions and realities,
معنا دا چې یو وخت شرایط انقلابي او فوق العاده وي چې هغه وخت د واک او صلاحیتونو د تصرف او توزیع لمن ځنګه چې ایجاب کوي تنظیمیدلی شي، یا به صلاحیتونه ډیر مرکزي کیږي او یا به استثنایي بدلون پکې راځي. اوس وخت شرایط عادي دي، امن قایم دی، مرکزي اطاعت او فرمانبرداري موجوده ده، مزاحمتي ګواښونه او خودسرۍ نشته نو ښکار ده چې د ولایتونو او محلي ادارو د ځواکمن کیدو، مالي استقلالیتونو او اقتصادي زونونو پر بنسټ پر پالیسۍ جوړولو کار وشي

د ښهروندمحوره حاکمیت حق، The right to citizen-centered sovereignty,
که څه هم دا یوه مدرنه اصطلاح ده خو په اسلامي متونو کې ورته «رعیت محوري» ویل کیږي، اسلامي نظام پر رعیت محورۍ او د عامه مصالحو پر بنسټ استوار دی، د رعیت برابري، د رعیت سوکالي، د رعیت کفا او حقوق یې، د رعیت پرورش، تعلیم، حفظ الصحه او د هغوی حاجاتو او احتیاجاتو ته مسوولانه رسنه وشي...پدې توګه پر حاکم لازمه ده چې د ښار رعیت او د دهاتو رعیت د ژوند له مزایاوو په برابره او عادلانه توګه مستفید شي، دوی باید له فقر او غربت ویستل شي، لاسنیوی یې وشي او د عام المنفعه خدمتونو او سهولتونو وېش عادلانه او برابر ترسره شي، د بیت المال له امکاناتو په عادلانه توګه برخمن شي...دیته ښهروند محوره حاکمیت وای..

د وطن د شتمنیو او ارزښتونو په وړاندې د مالکانه احساس په فضا کې له قوانینو او نظامونو د اطاعت انگیزه ایجادول، Creating a motivation to obey laws and systems in an atmosphere of ownership towards the homeland and values,

## نتیجه

که دغه مباني او مدني ارزښتونه چې پورته مې صرف د عنوان په توگه یاد کړې په پام کې ونیسو او خپل رژیمونه او حاکمیتونه پرې وتلو جوته به شي چې تیر شوې نظامونه پر دغو اصولو او تعریفاتو کماحقه عمل نه و کړی، ځکه خو کلونه کلونه دلته د «صلاحیتي چوکۍ» او منصب Position ruled authority نقش محسوس شوی خو د همدې منصب خاوندان له اقتدار وروسته د تاریخ په زباله کې غورځول شوی، هرځل چې دلته نظام ساقط شوی د ولسونو په چکچکو بدرقه شوی، دلیل یې دا ده چې دلته نظامونو د خپل ولس او رعیت په زړونو نه بلکې د هغوی پر سرونو یې حکومت چلولی.

ما سیوا لدې ټولو چې ذکر شول، که غواړو د افغانستان ثبات او حاکمیت دایم او قایم ولرو، لازمه ده د یوه واحد تام الاختیاره حاکم تر څنگ په هر ولایت کې با صلاحیته، با صلابته، چابک، خوځنده او د ولسونو خادم او محبوب حاکمان هم ولرو، طبعاً چې د ملک د حاکم نقش او صلاحیت به څنگه چې معمول دی محفوظ وي خو د ځینو تفویض شویو واکونو استازولې به یې محلي مسوولین ترسره کوي، چې بالنوبه به دوی د مرکزي حاکم او حکومت د استازو په نقش کې وي.
تکراراً یادونه کوم چې لدې مبحث څخه مې هدف د فدرالي نظام توجیه نده، ځکه چې د فدرال بحث یو کاملاً جلا بحث دی، زه د مقتدره واحد نظام او واحد افغانستان په رڼا کې د سیمه ییزه حکومتولۍ د تقویې، موثریت، جوابده کیدلو، چټک او متوازنه انکشاف، هر اړخیزه وده، سرعت او له بروکراسۍ عاري سیستم ننگه کوم او د همدغسې یو سیستم لپاره دغه څېړنه وړاندې کوم.

زما د موډل او فدرالي موډل تر منځ توپیر دا ده چې فدرالیان د افغانستان پارچه پارچه کیدل غواړي، خو زما په طرحه کې د افغانستان د تحکیم، د واحد قانون بالادستي، ملي ثبات، پایداري او د افغانستان یووالی هدف دی.
فدرالیان د کینې او کدورت په رنځ اخته دي دوی د یوه مشخص قوم په وړاندې د عقدې له مخې د بیلتون طلبۍ شعور لري، مگر زه یې د پیوند، اتحاد، وحدت او تړون آرمان لرم.
زه د متراکم شویو اداري واکونو په تفویضولو او تقسیم ټینگار کوم، پر صمیمانه مرکزي اطاعت باور لرم تر څو بروکراسي راکمه شي، د حاکم پر مقتدره حاکمیت باورمند یم، خو آرزو او برنامه لرم چې د افغانستان هر ولایت لکه پایتخت ودان او آباد شي، د عمران او انکشاف چارې او برنامې سراسري شي، ټول وطن د مسلکي کادرونو د استخدام جوگه شي، نه مرکزونه، ټول افغانستان د وگړو او استوگنو لپاره مرفه او مرغوب وی، نه مرکزونه، او پدې توگه هر افغان له هر افغان سره برابر احساس ولري، داسې افغانستان به په مراتبو ټینگ، طاقتور او ځواکمن وی،

بیا به د کابل تخت د سقوط او عروج مرکز نه بلکې تر څنګ به یې هر ولایت د هغوی وګړو ته پایتخت او جنت وی، وطنپرستي به لا غښتلې شي، تعصب او تضاد ته به ګنجایش پاته نشي، د بیلتون او حقارت شعور ته به ګنجایش پاته نشي، فدرالي شعارونه به بې معنا شي، تجزیه طلبي به د هیڅ افغان په شعور او ضمیر کې پاته نشي، د پردیو مداخلو او استخدام ګنجایش به ناممکنه شي، ترک وطن او د سرمایو فرار به ناممکن شي، وابستګۍ او احتیاج به ختم شي، پر خپلو منابعو اتکا به مو لا ځواکمن او له سیمې او نړۍ سره د شراکت جوګه کړې، د نورو د یرغل او نیابتي لوبي به هغه وخت ناممکنه شي کله چې مونږ ټول د وطن ژمن او فعال بچي اووسو، څکه خو ټېنګار کوم چې هر څومره چې د وطن وګړې سوکاله او محترم شي په هماغه پیمانه به یې شعور لازیات ملي او د وطن لپاره د فداکارۍ پر روحیې سمبال وي بیا به نو هر ولایت لکه واحد دولت د ټولو اتباعو لپاره عزیز او سپېڅلی وي...

**منابع او مآخذ:**


- حکومتداری، مدیریت و توسعه، چگونه حکومت کارآمد داشته باشیم، مولفان، دیوید هیوم، مارک ترنر، ژباړن، عباس منوریان، ۱۳۷۹
- ارزیابی عملکرد دولت، لیکوال، دوکتور احمد سیر مهجور، ۱۳۹۱
- Challenges of good governance in Afghanistan, Sowieba Abedi 2023
- د لیکوال د مطالعاتو او مشورتي رسمي مجالسو له یاددښتونو څخه
- جګړه ځپلي هېوادونه او د حکومتولۍ ننګونې، لیکوال، پروفیسور ډېنیس ای. رونډېنلي، ژباړن حفیظ همیم جلالزی، د بهرنیو چارو وزارت د ډیپلوماسۍ انستیتوت، کال ۱۳۹۴
- دولت های شکننده و امنیت انسانی، ډاکټر محمود یزدان فام، ۱۳۹۲